PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

په بادغیس کی ۱٦۰ تنه دکابل رژیم ملیشه تسلیم شول

بادغیس ، میدیا :
په کویټه کی دمیدیا نمایندګی دهرات ولایت دقوماندان اسماعیل خان په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دبادغیس ولایت دکشک ولسوالی پوری مربوط دکشک کهنه پرعلاقه داری باندی یو لړ بریالی عملیات ترسره کړل چی په نتیجه کی یو شمیر ملیشه مړه اود حاجی عبدالظاهر او حبیب الله په مشری ۱٦۰ تنه ملیشه دخپلو ۱۰۰ کورنیو سره دجګړی په دوران کی ځانونه مجاهدینو ته تسلیم کړیدی .
رپوټ زیاتوی چی نوموړی ملیشو له ځانه سره ۱٦۰ میله درندی او سپکی وسلی دوه عرادی اته سلنډره پوځی لاری دزیات شمیر مهماتو او لوژستیکی موادو سره راوړی او مجاهدینو ته یی سپارلی دی .

په هرات کې ددښمن دوه نظامی قرارګاوی فتحه شوی

هرات ، میدیا :
په کویټه کی دمیدیا نمایندګی دهرات ولایت دقوماندان اسمعیل خان درادیویی پیغام په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دهرات ښار په لویدیزه دزنده جان ولسوالی کی دکابل رژیم په ځای پر ځای شویو پوستو باندی ددرندو توپونو په واسطه سخته جګړه پیل کړی ده چی پکی دسنګ بست او قلعه ګه سبمو قرارګاوی اوشاوخوا پوستی فتحه کړی اویو شمیر کلی دکمونستانو دکنترول څخه ازادی کړی دی او دښمن ته یی دسر او مال زیات تاوان اړولی. خبر زیاتوی مجاهدینو پدی بریالی بریدونو کی دفتح شویو پوستو څخه دوه میله دهاوان توپونه ، دو پیکا ، پنځلس کلاشینکوفونه دری پایی مخابری دتوپونو راکټونو او ماشیندارو په زرګونو رنګارنګ ګولی ، مجهزه اشپزخانه دزیاد مقدار لوژستیکی موادو سره په غنیمت نیولی دی.

دوهم کال ۲۱ پرله پسي (۷۳مه) ګڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش ددلوي ۱٦ مه د۱٤۱۲هـ ق دشعبان المعظم ۲ مه د۱۹۹۲ میلادي دفبروي (۵مه) نیټه

دافغانستان جهاد دهمدی قوماندانانو په قومانده پیل شوی او اوس هم ددوی مسولیت دی چی ددښمنانو تولی دسیسي شنډی کړي

الحاج حقاني

دسرتاسری شورا ددریمي پرتمیني غونډی راپور تاژ

دانډونیزیا مسلمانان ځان ته دتلویزیون استیشن جوړوی

کوالالمپور ، دپاکستان ورځپاڼه :
داندونیزیا مسلمانان داسلامی تعلیماتو دتبلیغ لپاره پدی هیواد کی درادیو او تلویزیون دځانګړیو ستیشنونو دجوړلو قصد لری اوددی نوو استیشنونو دجوړولو لپاره دپیسو په تولولو بوخت دی .
دیوه خبری اژانس درپوټ له مخی ویل کیږی چی ددی ستیشنونو دجوړولو لپاره به دپیسو راغونډولو کار دمسلمانانو یوه مذهبی اتحاد تر سره کوی رپوټ وایی ددی کار لپاره به کم تر کمه ۱۰ میلیونه ۱۲ لکه دالر راغونډ شی .

په افغانستان کی دجهاد له برکته یو اسلامی نړیوال قوت جوړ او دټولو مسلمانانو لپاره یو جهادی مرکز رامنځ ته شو

الحاج حقانی

دافغانستان له جهاد سره دکراچی دعلمی او روحانی حلقو دوینی دقربانی اعلان

په۳مخ

کراچی ته دخوست دفاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دسفر راپورتاژ

دالجزایر او کشمیر له مسلمانانو سره دپیوستون په اړه : داسلامي تحريك دمنسوبینو غونډه

۸ مخ

دننګرهار دټولو تنظیمونو دقوماندانانو په اتفاق

قوماندان حاجی عبدالقدیر دوالی په توګه وټاکل شو

په ۸ مخ

استاد سیاف دالبنیان اژانس ته په یوه پیغام کی :

دسیاسی حل اورګادی یوازی زموږ له سرنه په تیریدو افغانستان ته داخلیدای شی

په ۸مخ کي

سرمقاله

دقوماندانانو دسرتاسری شورا دریمه پرتمینه غونډه اوپریکړی یې

په دی شپو ورځو کی موږ دهیواد دجهادی فعالیتونو په لړ کی دیوه بل جریان شاهدان وو ، چی که څه هم دنړی په خبری وسایلو کی دهغو انعکاس کمزوری ؤ خو اهمیت او ارزښت یی بیا پر خپل ځای زیات او جوت دی.
اوپه داګه ویلای شو چی دجهاد په اړه مو یو قاطع او غوڅ ګام بللی شی دغه جریان دهیواد دمجاهدو قوماندانانو دسرتاسری شوری ددریمی غونډی دایرېدل وو چی دڅه دپاسه پنځوسوو تنو قوماندانانو په شمول دالحاج مولانا جلال الدین حقانی دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ په تاریخی مرکز « ژوره »کی دایره شوی وه.
ددلوی په ۸ مه نیټه دژوره تاریخی لوړی ژوری دیوه بل تاریخی جریان شاهدی وی چی واقعاً به دهیواد دراتلونکی په باب ځانګړی پیغام له ځانه سره ولری.

په۸ مخ کي

مساجد الجزایر درمحاصره تانکها

درصفحه ۵

لیبیا افراد ملوث درسقوط طیاره امریکایی رابه سازمان ملل تسلیم می دهد

انقره :
عبدالسلام جالود معاون ریاست جمهوری لیبیا گفته است که حکومت ان کشور اماده است دو تن از اتباع خود را که درسقوط طیاره مسافر بری پان امریکن ایالات متحده امریکا ملوث اند ، به سازمان ملل تحویل بدهد .
عبدالسلام جالود گفته است که حکومت وی این دو تبعه خود رابه این شرط به سازمان ملل تسلیم می دهد که ان سازمان یك کمسیون تحقیقاتی بی طرف وبین المللی راجهت تحقیق وتفتیش این موضوع ترتیب دهد معاون ریاست جمهوری لیبیا این نکته راطی بیانیه درانقره پایتخت ترکیه واضح ساخته است.

دپاکستان ددینی اوسیاسی احزابو عکس العمل

دظاهرشاه حکومت به د میلیونونو شهیدانو له وینو سره خیانت وی

په ۸ مخ

دمسلمانانو په بیداري ، وحدت او جهاد کي دامت ازادي اوعزت نغښتي دي

الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني
دتاسیس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

دافغانستان جهاد دهمدي قوماندانانو په قومانده پیل شوي او اوس هم ددوي مسولیت دی چي ددښمنانو ټولي دسیسي شنډي کړي

راپور تران : محمدیعقوب ، شهزاده

عکاسي : احمد سینا «احمدي» ، نجیب الله

د ۱۳۷۰ هـ ش کال ددلوی میاشتی په اتمه نیټه دسه شنبی په ورځ دافغانستان دجهادی تنظیمونو څخه ۵۵۰ تنه نومیالی قوماندانان دګران هیواد افغانستان دګوټ ګوټ څخه دپکتیا ولایت په سرحدی سیمه کی راټول شوی وو په همدی ورځ دماسپښین دلمانځه داداکولو وروسته الحاج مولانا جلال الدین حقانی اوورسره دجهادنورو اتلو قوماندانانو دمیرانشاه له ښار څخه دپکتیا ولایت کی دمجاهدینو مشهور او تاریخی مرکز (ژوره) ته چی اوس دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ په نوم نومول شوی ، دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شورا ددریمی ستری غونډی ددایریدو په خاطر حرکت وکړ دمجاهدینو دغه قافله دیو څه منزل له طی کولو وروسته ذکر شوی جهادی مرکز ته ورسیده او دژوره غونډ نظام قراول سره داسلام دغه فدایان دموټرو څخه پلی شول او دغه غونډ ته دننوتلو په وخت دافغانستان دجنوبی جبهاتو عمومی قوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی اوورسره میلمنو قوماندانانو ته دژوره غونډ مسولینو مجاهدینو او دعبدالله بن مبارك (رض) حربی پوهنتون استاذانو ، محصلینو له خوا چی په عسکری یونیفارم ملبس وو په لاسونو کی یی سپین او شنه بیرغونه نیولی او په منظم شکل ولاړ وو . هر کلی وویل شو .

دعبدالله بن مبارك (رض) حربی پوهنتون درئیس ارکان محمد نعیم خان په قومانده دتشریفاتو مراسم اجرا شول او دمیلمنو تود هر کلی وشو ، دحضرت عمر فاروق (رض) په غونډ کی دټولو میلمنو دپاره دخوراك ، څښاك او استراحت کولو پوره انتظام شوی وو.

دچهارشنبی ورځ ددلوی په نهمه نیټه دمازیگر په دریو بجو دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شوری ددریمی غونډی لومړنی جلسه دقرانکریم دڅو مبارکو ایاتونو په لوستلو پیل شوه وروسته دجلسی ویاند دالحاج مولانا جلال الدین حقانی څخه غوښتنه وکړه چی غونډی ته خپله افتتاحیه وینا واوروی حقانی صاحب دخپلي وینا په یوه برخه کی وویل :

مجاهدینو دالله (ج) په مرسته روسی امپراطوری دړې وړې کړه په داسی حال کی چی مجاهدینو عسکری زده کړه

الحاج حقاني اوګن شمیر نور قوماندانان دشورادجلسي ترختم وروسته دحضرعمرفاروق (رض) په غونډ کی

نه وی کړی او دجهاد قوماندانان هم عسکری جنرالان نه وو ، خو اوس دالله (ج) په فضل او دجهاد په برکت له ټولو جهادی قوماندانانو څخه جنرالان جوړ شوی ...

دهمدی جهادی قوماندانانو په قومانده دکفر او کمونیزم پر ضد جهادپیل شو چی دهغی په ترخ په زرګونو مسلمانان شهیدان شوی ، په زرګونو ماشومان یتیمان ، ښځی کونډی ، بوری او په زرګونو ځوانان معیوب شوی او همدارازپه زرګونو مدرسی ړنګی شوی نو اوس هم دقوماندانانو مسولیت دی چی په دی حساس وخت کی داسلام ددښمنانو ټولی نقشی شنډی کړی .

حقانی صاحب زیاته کړه : دروس امپراطوری ړنګه شوی او اوس امریکا خپل ځان دټولی نړی وکدار بولی ، که مور ته دامریکا له خوا حکومت جوړیږی دابه زموږ دجهاد داهدافو سره لوی خیانت وی .

وروسته بیا دالحاج مولوی جلال الدین حقانی وینا دکابل دنامتو قوماندان انور خان له خوا په دری ژبه وژباړل شوه تردی وروسته نومیالی قوماندان عبدالحق وینا وکړه او دخپلی وینا په ترخ کی یی وویل :

دافغانستان مسلمانو خلکو دا ۱۳ کاله جهاد دیوه هدف دپاره کړی دی چی هغه به افغانستان کی داسلامی حکومت جوړیدل دی .

قوماندان عبدالحق زیاته کړه : تر اوسه پوری جهادی تنظیمونو له خوا ۶–۷ اتحادونه شوی او دوه ځله حکومتونه جوړ شوی دی خو دا ټول دیوه بل دنه مرسته کولو له امله ړنګ شوی ، نو اوس دهر څه زیات دمجاهدینو تر منځ دیووالی او وحدت ضرورت دي دشورا لومړی جلسه دمازدیگر په خلورنیمو بجو ددعا په لوستلو پای ته ورسیده .

دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شوری ددریمی غونډی دوهمه جلسه د پنجشنبی په شپه نهه نیمو بجو پیل او تر یولسنیمو بجو پوری یی دوام وکړ ، په دغه جلسه کی قوماندانانو خپل نظریات او پیشنهادات وراندی کول چی په دی جریان کی قوماندان خلیفه عبدالواحد نقشبندی ، اقای رضوانی دنهضت اسلامی افغانستان دتنظیم څخه ، شهزاده خان دننګرهار ولایتی شورا نماینده ، اکبر اغا دکندهار ولایت کی دمولوی صاحب خالص داسلامی حزب قوماندان ، قوماندان محمد دکندهار ولایت څخه او جنرال رحمت الله صافی خپل نظرونه وړاندې کړل ، دقوماندانانو دزیـ... لی له امله تصمیم ونیول شو چی دحوزی یا ولایت څخه یو یو تن نماینده وټاکل شی تر څو دټولو قوماندانانو نظریات دخپل نماینده له خوا راټول شی او بحث پری وشی چی بیا همداسی وشول ، دجلسی دپای ته رسیدووروسته قوماندانانو دولایاتو او حوزو په سطحه خپل نماینده ګان وټاکل .

ددلوی دمیاشتی په ۱۰ مه نیټه دپنجشنبی په ورځ دسهار په نه نیمو بجو دریمه جلسه دقرانکریم دڅوایتونو په لوستلو پیل شوه ، دغی جلسه کی جنرال سید حسن (سید جګړن) دحزب وحدت نظامی قوماندان افتتاحیه وینا وکړه ، وروپسی دده معاون اقای احمدی ، قوماندان مولوی غلام محمد دجنوب غرب د ۱۰ ولایتونو نماینده ، قوماندان ظاهر عظیمی دهرات ولایت ، قوماندان انور خان ، مولوی حمدالله

۴ مخ کي

چه دلاور است دزدی که بکف چراغ دارد !

سمیع الله «تازه»

رئیس رژیم کابل طی فرمانی اعلام نموده که از زور ۲۶ دلو که مطابق به بیرون رفتن اخرین دسته از عساکر شکست خورده اتحاد شوروی از افغانستان میباشد بحیث روز نجات ملی تجلیل صورت گیرد همچنان در فرمان گفته شده است که درین روز همه ساله رخصتی عمومی بوده وبمثابه جشن ملی مردم افغانستان تجلیل شایسته ازان بعمل اید.

سخن برسر این حقیقت است که خروج مفتضحانه عساکر شکست خورده روس از افغانستان واقعاً در تاریخ پر افتخار پنجهزار ساله کشور ما درردیف بزرگترین حوادث بخصوص به سلسله شکست امپراطوری ها و شکست متجاوزین مغرور ، بزرگترین ان می باشد تاریخ کشور ما نسل به نسل افسانه های تهاجم وشکست سکندر تیمور چنگیز انگلیس و روسها راهمچنانیکه با خود تا حال اورده اندبه نسلهای بعد مانیز این پیام شجاعت ودلیری مردم رابا خود خواهد رسانید .

روز گاری فرزندان افغان ها از شکست روسها در کشور ازاده شان کتاب ها خواهند خواند وافسانه هاخواهند شنید ، درین کتاب ها وافسانه از دو نیروی متضاد یکی پاك ومنزه ودیگری سیاهرو وخاین بحیث قهرمانان حوادث این دوره یاد بعمل خواهد امد.

نیروهای سیاه وخاین همانهای اند که با همدستی با روسها ی کمونست باکودتای هفت ثور فاجعه افریدند وبالاخره بادعوت روسهابرای تجاوز بر کشور ما خیانت به مادر وطن رابه اوج خود رسانیدند .

نیروهای منزه همانهای اند که بخاطر پاك نگهداشتن سرزمین اسلامی شان از لکه الحاد جانبازانه وقهرمانانه خود رافدا نمودند.

نجیب رئیس رژیم کابل خودکسی است که در لکه دار ساختن دامان پاك وطن با کودتای کمونستی والحادی ثور و بالاخره با دعوت وموافقه با تجاوز روسها بر کشور ما از جمله خائنین بوطن و مردم محسوب می گردد.

نجیب ، ببرك ، امین وتره کی در راس گروه خائینین قراردارند که دستان شان با خون هزاران هزارتن از مردم مسلمان کشور ما اغشته است هر کدام انها علاوه از انکه خود شان علیه مردم بسیار بیچاره وفقیر کشور ما بدترین نوع شکنجه وظلم راعملی نمودند بلکه بابیگانگان ودشمنان کشور ما نیز در تباهی مردم وکشور ما صادقانه همکاری نمودند ویابه عباره دیگر انها برای ویرانی وبربادی مردم وکشور از انهای دعوت نمودند که از انسانیت چیزی بیاد نداشتند.

بدبختی های جاری اواره گی وبیچاره گی مردم افغانستان همه وهمه ناشی از اعمال خائینانه کمونستان افغانی است که برای دستیابی وحفظ قدرت از هیچ نوع ددمنشی و خیانت فروگذاشت نکردند.

نجیب رئیس رژیم کابل خودیکی از مهره های مهم این حلقه خاین میباشد او بحیث یك کمونست برای پیروزی الحاد فعالیت نموده در کودتای خونین ثور رول ایفا نموده وبااشغالگری روسها در افغانستان موافق بود وبالاخره به رهنمایی روسها و تحت حمایت تانکهای روسی به قدرت در افغانستان دست یافت واز سال ۱۳۶۵ باینطرف باپشتیبانی مالی ونظامی روسها به کشتار مردم کشور مصروف میباشد.

جای تعجب اینست که همچون یك فرد که درتمام خیانت های نابخشودنی کمونست های داخلی وخارجی علیه کشور و مردم ماسهم قاطع وبزرگ دارد امروز روز خروج قوای ولینعم خود راکه به قوه ایمان وشجاعت مردم مابه شکست شرم اور مواجه شده اند روز نجات ملی اعلام می نماید.این عمل از جمله رندی های بیشرمانه کمونست ها است که میخواهند برچشم مردم

در صفحه ۷

په افغانستان کی دجهاد له برکته یو اسلامی نړیوال قوت جوړ او دټولو مسلمانانو لپاره یو جهادی مرکز رامنځ ته شو

شهرت ننګیال

دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دپاکستان دکراچی ددینی جامعو، مدرسو او علماوو په دعوت دروان کال ددلوی په ۲۳ مه نیټه کراچی ته تشریف یوړ، دهوا دخرابوالی له امله کراچی ته دپی، ایی ای الوتنه وځنډیدله.

له همدی ځایه وه چی په کراچی کی حقانی صاحب په هغه ستر مطبوعاتی کنفرانس کی برخه وانشوای اخیستی چی ددوی په ویاړ دجمعیت العلما اسلام له خوا جوړ شوی ؤ، دغه مطبوعاتی کنفراس چی دکراچی په هوټل کی جوړ شوی ؤ دپاکستان دبیلابیلو معتبرو خپرونو استازو او دبهرنیو اژانسونو خبریالانو پکی ګډون درلود.

کله چی دشپی په لسو بجو حقانی صاحب او ددوی دملګرو دسپرلی الوتکه دکراچی پر هوایی ډګر کی کیناستله، پداسی حال کی چی دهوایی ډګر بیلابیلو ویارمنو کارنامو په وړاندی دعقیدت او درناوی دمراتبو دڅرګندولو عکاسی او نمایندګی کوله.

حقانی صاحب اودده ملګری پداسی حال کی چی دهر کلی کوونکو په لیکو کی روان ؤ دهوایی ډګر له تر مینل څخه دموټرو د یوه ستر کاروان په بدرګه چی دیوی ډلی موټر سیکل سپرو له خوا بدرګه کیده تشریف یو ړلو دجامعة العلوم الاسلامیة له خوا په جوړ شوی سیمنار کی یی چی (دافغانستان جهاد او دروسی جمهوریتونو ازادی) تر عنوان لاندی جوړ شوی ؤ وینا وکړه حقانی صاحب په خپله عالمانه وینا کی دافغانستان جهاد په بیلابیلو ابعادو او اهدافو رڼا واچوله وی ویل: «دافغانستان جهاد دیوه عقیدتی بنسټ په اساس پیل شوی دایواځی دافرادو او حکومتونو پر ضد جهاد ندی بلکی دیوه نظام اویوه داسی سیستم پر ضد جهاد دی جهاد او قربانیو داهدافو او ارمانونو مخالف وی».

پدغه سیمنار کی دپاکستان مشهورو علماوو چی په هغه کی دسواد اعظم اهلسنت پاکستان منشی مولانا محمد اسفندر یار خان، دحرکة المجاهدین امیر مولانا فضل الرحمن خلیل، شیخ الحدیث ډاکټر مولانا شیرعلیشاه، شیخ الحدیث مولانا سبحان محمود، مولانا محمد طیب قریشی، مولانا محمد بنوری، مفتی نظام الدین، مولانا عبدالواحد، مولانا فیض الله، مولانا عزیزالرحمن، مولانا عبدالسمیع، مولانا فضل محمد، مولانا افتخار، مولانا راحت علی او نورو علماوو خبری وکړی اوپه خپلو خبرو کی یی دخوست فاتح دجهادی کارنامو یادونه وکړه او دافغانستان دجهاد ملاتړ اعلان کړ او دجهاد پر ضد یی دروانو توطیو اوسازشونو په رابطه خبرداری ورکړ.

دجمعی په ورځ په جامعة العربیه احسن العلوم کی یوه ورکول دوی زموږ قائد حقانی حقانی بریالی دی وی دافغانستان جهاد، او داسی نورو شعارونو سره دخوست دفاتح هر کلی کاوه.

جامعة العربیه احسن العلوم ته په رسیدو دجامعی مشرانو دحقانی صاحب دراتلو انتظار کاوه پدی کی دجامعی استادان دجامعی مشر شیخ الحدیث مولانا نازر ولی خان اودپاکستان دپارلمان غړی مولانا حسن جان چی نوی دبنګله دیش له سفر څخه راستون شوی و موجود ؤ.

حقانی صاحب دجامعی له استادانو سره داسلامی دعوت او جهاد په لار کی ددینی مدرسو په رول او اهمیت خبری وکړی اودافغانستان دجهاد دروانو حالاتو په هکله یی توضیحات ورکړل.

دجمعی له لمانځه مخکی دجامعی صدر شیخ الحدیث مولانا زر ولی خان په خپله افتتاحیه وینا کی وویل «زموږ درونډ میلمه دخوست

الحاج حقاني په نشتر پارك كي دجمعيت العلماي اسلام له خوا جوري شوي غوندي ته دوينا په حال كي

برخی دسنه راغلاست په شعارونو سنکلی کړی شوی وی دهر کلی کوونکو شعارونو او دژنده باد نارو او داستقبال کوونکو منظمو لیکو دافغانستان دمجاهد ولس دایمان پرتم او دخوست دفاتح مولوی جلال الدین حقانی دعظمت او جهادی

چی هغه دافغانانو له اسلامی او ملی روایاتو څخه مخالف دی».

دخوست فاتح وویل:

«امریکا او ټوله نړی باید پدی وپوهیږی چی افغان مجاهد ولس به هیڅکله هم دحل داسی کوم تجویزونه منی چی هغه دافغانانو دمقدس ډیره ستره غونډه جوړه شوی وه حقانی صاحب اوملګرو یی دغرمی په یوولسو بجو جامعی ته تشریف راوړ کله چی دوی جامعی ته نږدی راورسیدل، دطالبانو له خوایی ډیر تود او درونډ هرکلی وشو اوپه اردو ژبه به یی ډیر انقلابی شعارونه

فاتح اودافغانستان دمجاهدینو سردار موږ ته داشرف او سعادت را په برخه کړ چی له خپلو ملګرو سره یی دلته تشریف راوړ دا زموږ ډیر لوی سعادت دی چی له داسی یوه عظیم مجاهد سره مو څو دقیقی

۶ مخ کي

دنبوی (ص) لمر زرینی وړانګی (٤)

ژباړه او لنډیز رحیمزي

ددی دوه اړخیز فشار له امله دمسلمانانو پښنی سستی شوی دبنو حنیفه لښکر پرمخ راتلو او دمسلمانانو ترکمپه پوری راورسید.

پداسی حال کی چی مسلمانان دنبوت دکاذب مدعی له لښکر سره لاس او ګریوان وو، که کوم عادی پوځ یا لښکر وای نو خامخا به یی په زړه کی داشك ګرځیده چی داخوبه حقیقی نبی نه وی؟ ولی دحضرت رسول کریم "ص" پر صداقت ایمان او دهغه سره مینی او محبت اودالله تعالی فضل وکرم دمسلمانانو په زړونو کی دایمان قوت دومره ټینګ کړ چی دچاپه زړه کی هم داشك پیدا نشو. هغوی پداسی حال کی چی په شاتلل یو ځل یی حانونه کنترول کړل اوپه یو بل یی غږ وکړ: کوم لوری ته روان یاست؟ ایا دشهادت پرمرګ درسوایی ژوندانه ته ترجیح ورکوی؟ اوبیا دثابت بن قیس (رض) اوازاوچت شو چی ویل به یی ای مسلمانانو! دتیښتی دغه بد عادت تاسی ولی خپل کړی؟ ای الله تعالی! زه ستا په حضور کی داهل یمامه له دین څخه اوله هغه څخه نه چی دی مسلمانو وکړل، لدی نه د برأت اعلان کوم.

تردی خبری وروسته هغه دبنو حنیفه پر لښکر برید وکړ او تر ډیری جګړی وروسته په شهادت ورسید.

زید بن خطاب (دحضرت عمر (رض) ورور) ابو حذیفه (رض) او خالد (رض) په اوچت اواز دژوند تر وروستی سلګی دجنګیدو عهد وکړ، ترکومه ځایه چی ددوی غږ ورسید مسلمانان دهغوی په شاوخوا کی راټول شول اوپه خپل ټول قوت سره یی پر دښمن برید وکړ او پدی توګه سخته جګړه ونښته، زید بن خطاب (رض)، ابو حذیفه (رض) اوپه لس ګونو نور مجاهدین په شهادت ورسیدل ولی دجګړی مخه یی وګرځوله، هغوی نه یوازی دبنو حنیفه لښکر ددوی کمپ څخه وتلو ته اړ کړ بلکه هغوی یی ددوی تر خپل کمپه پوری په شاتګ ته اړ کړل.

څو ساعته دوام داره جګړه روانه وه، خالد (رض) احساس وکړ ترڅو چی مسلمه کذاب ژوندی وی دبنو حنیفه مخالفت نه ختمیږی هغه داسلامی لښکر په منځ کی ولاړ وو او قومانده یی ورکوله خالد (رض) ددښمن دلښکر په مرکز باندی درونډ برید وکړ او ځان یی مسلمه کذاب ته ورساوه، دفعتاً وحشی پر مسلمه کذاب باندی دنیزی ګذار وکړ (وحشی هغه حبشی غلام دی چی داُحد په غزا کی یی درسول کریم (ص) تره حضرت حمزه (رض) باندی دنیزی ګذار کوی او هغه په شهادت رسوی، اوویل کیږی چی دنیزی په وارولو کی یی ډیر زیات مهارت درلود. ژباړن)

مسلمه دټپی کیدو سره سم راوغورځید او ووژل شو دمسلمه کذاب له مړینی وروسته دبنو حنیفه دلسکر دملاتیر مات شو، اوله میدان څخه یی تښته وکړه.

دمسلمه بن کذاب له مړینی سره سم دبنو حنیفه دملاتیر مات شو او تیښته یی وکړه یو زیات شمیر افرادو یی یوه باغ ته پناه یوړه، چی څلورو لوریو ته یی اوچت اوچت دیوالونه وو.

خالد (رض) سمدستی باغ محاصره کړ، براء بن مالک (رض) اوابود جانه (رض) دباغ منځ ته ور ودانګل ابود جانه (رض) تر لنډی جګړی وروسته په شهادت ورسیه، ولی براء (رض) وکولای شول چی دباغ دروازه داسلامی لښکر په مخ پرانیزی دخالد (رض) پوځ باغ ته ور ننوت سخته جګړه پیل شوه، خو تر لږ شیبی وروسته دمرتدینو ډله ایز قوت ختم شو، او هغوی یو یو ووژل شو، چی له همدی امله ددغه باغ نوم حدیقه الموت (دمرګ بڼ) کیښودل شو.

ددی جګړی په ترڅ کی دبنو حنیفه دقبیلی څخه تقریباً اوه

۷ مخ کي

جهادي ادب

په غم غمجن انسانيت دپاره
موږه سنادي غواړو راحت غواړو
موږ ددنيا په هره ځمکه باندي
شکلي نظام دشريعت غواړو

دافغانستان جهاد دهمدي قوماندانانو ...

دغزني ولايت اقاى هادى دحركت اسلامى تنظيم ، مولوى محمد عمر دپكتيكا ولايت ، حاجى صاحب محمد-نبى دكابل ولايت معلم صاحب معزالله دكندز ولايت نماينده او خليفه عبدالواحد نقشبندى دخپلو ولاياتو او حوزو په نماينده گى خپل نظريات وړاندى كړل او جلسه په دولس نيمو بجو ددعا په لوستلو پاى ته ورسيده .

دافغانستان دجهادى قوماندانانو دسرتاسرى شورى ددريمى غونډى څلورمه جلسه ددلوى دمياشتى په لسمه نيټه دماسپيښين په درى بجو دقران كريم دځو ايتونو په لوستلو سره پيل شوه دقرانكريم دتلاوت وروسته مولوى صاحب رازمحمد دارزگان ولايت څخه قوماندان احمد اخوند زاده دغور ولايت څخه ، شيخ دولت رافعى دحزب وحدت تنظيم څخه او مولوى محمد عالم خپل نظرونه څرگند كړل ، جلسه په څلور نيمو بجود دعايى په لوستلو پاى ته ورسيده .

دتيرو څلورو جلسو په ترڅ كى وړاندى شوى دقوماندانانو نظريات او پشنهادات ديوه باصلاحيته كمسيون له خوا په دقيقه توگه وڅيړل شول او تر پوره څيړنى وروسته ددلوى دمياشتى په دولسمه نيټه دسهار په لسو بجو دسرتاسرى شورا دريمى غونډى پنځمه جلسه دقرانكريم دځو اياتونو په لوستلو پيل او تر يولس نيمو بجو پورى يى دوام وكړ په دى جلسه كى چى دافغانستان دجهادى قوماندانانو دسرتاسرى شورى ددريمى غونډى وروستى جلسه وه ، الحاج مولانا جلال الدين حقانى په خپله اختتاميه ويناكى وويل :

عزتمندو قوماندانانو په افغانستان باندى دروسانو ديرغل په وخت موږ او تاسو اودنړى مسلمانانو سره دا ويره وه او هيچا دا توقع نه لرله چى روسان به ماتى وخورى ، ولى تاسو وليدل چى روسانو زموږ دمجاهد ملت په وړاندى مقاومت ونشو كړاى .

حقانى صاحب زياته كړه : ورونو دا مركز چى تاسى په كى ناست يى دايوازى پر موږ پورى اړه نه لرى بلكى دا دمسلمانو افغانانو مركز دى په دغه مركز دملحد دښمن بى شميره تعرضونه شوى ، او زموږ مجاهدينو دلته زيات شهيدان وركړى چى داشهيدان دافغانستان دبيلا بيلو ولايتونو اوسيدونكى وو .

ورونو ستاسى خدمت په موږ حق دى كه تاسو ته زموږ دكوم كمى په وجه او يا هم دسوړ موسم له امله كوم تكليف رسيدلى وى ، نو الله (ج) دى تاسى دتكليفونو اجر دركړى .

دحقانى صاحب دوينا وروسته دجلسى دوياند اختر محمد ټولواك له خوا دافغانستان دجهادى قوماندانانو دسرتاسرى شورى ددريمى غونډى پريكړه ليك ولوستل شو چى دپريكړه ليك متن به په راتلونكى كى انشاءالله نشرته وسپارل شى .

دقوماندان اختر محمد ټولواك څخه وروسته قوماندان عبدالحق دقوماندانانو په نماينده گى دالحاج مولانا جلال الدين حقانى او دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ دمسولينو او مجاهدينو څخه دمننى په ترڅ كى وويل :

ديخنى پدى موسم كى

پنځم مخ كي

ننګيالي او خاطري يي

روس او افغان ملحد او مسلمان او بالاخره دعصر سترشيطان دقران له پيرو سره كيوتل او تر يوى لسيزى په اور وينو او اورونو كى له كش او كړپ وروسته مومن افغان دبرى پرستيژ ودريد ، دايشيا په زړه « دافغانستان » كى دعظمت شهامت او غيرت دننگ ځلى ودريد .

دايثار او قربانى په دغه ځلى كى دلكونو مومنو افغانانو او تورياليو غازيانو وينى غوښنى او هډوكى شامل دى .

چاټول بدن ، چا نيم ، چا لاس ، پښه ، سترگى او ... وركړل ترڅو دومره دننگ ځلى جوړشو او زموږ ملت يى داسلامى امت په منځ كى اوټول امت يى په انسانى نړى كى سرلوړى كړ .

نن افغان څوك دى ؟

دسرى امپراطورى دزوال عامل ، ديوى سترى او نابرابرى جگړى فاتح دنړى دمحكومو او مظلومو دقيامونو سالار او لارښود داتلوليو او قربانيو سمبول او دكلك ايمان او عظيمى ارادى خاوند.

چى داور باروتو او گوليو سره تهر او تندى جنگولى شى ، چى پرخپله سينه سرى گولى سړولى شى ، چى پر خپله عقيده وينى توېولى شى خو سرلوړى به اوسى او دعزت او شرافت ژوند به كوى ددغه عزتمندى قافلى يو تن دادى راته ناست دى پر بدن يى دباروتو او گوليو سره دټكر نخښى لاشته يوه پښه يى دخداى (ج) په لاره كى نذرانه كړى ده ډاډه دى او په خپله قربانى خوښ ،سره پيژنوېى :

احمد خان دمتون خان زوى دنادرشاه كوټ ولسوالى اوسيدونكى چى دخوست دفتحى دبريمنو عملياتو په ترڅ كى دمكتب پوستى سره نژدى ددښمن دماين په وسيله ټپى شوى اويوه پښه يى له لاسه وركړى .

سرى خورو ته

عاصم ثمرخيلى

چى دستا نه لاړو ننگ
هيوادوال دى كړل پتنگ
جبلخانى دى كړلى ډكى
مينه دى بورى رنگارنگ
ډيرى خوينده شولى ورارى
سره لاسونه په اترنگ
چى (كيراړه) خيال كى راشى
زړه توپونه په غورځنگ
دخپل خاص هدف دپاره
افغانان دى كړل ملنگ
چى احساس درسره نه ؤ
كړل دى ټول دځان په رنگ
دجهاد سپيځلى نوم كى
دافغان دتورى شرنگ
چى دزوره يى ته شوى
شولو روس دستا په څنگ
روس چى وليدلو زور
شو روان په هغه درنگ
دجهاد زور چى يى ليدلى
روس ناروغ پروت په پالنگ
دجهاد په نوم چى غلا كړى
سرټيغ لكه بادرنگ

دنور ځلي

دحضرت علي (رض) عدالت

مولانا عبدالمجيد

حضرت علي كرم الله وجهه دراشيدينو خليفه گانو څخه څلورم خليفه دى او درسول الله (ص) دارشاد مبارك له مخى پر موږ باندى دنبى كريم (ص) سنت اودراشيدينو خليفه گانو دسنتو پيروى كول ضرورى دى .

عامرشعبى (رح) فرمايى چى يووار دحضرت على كرمه الله زغره (زره) وركه شوى وه چى يو عيسوى ته په لاس ورغلى وه . څه موده وروسته حضرت على (رض) دعيسوى سره خپله زغره وليدله اووېى پيژندله . نوددى لپاره چى خپله زغره داسلامى قوانينوپه چوكاټ كى دننه ترلاسه كړى دوخت قاضى په عدالت كى يى دمدعى په توگه خپله عريضه اودعوى داخله كړه . خو قاضى شريح (رض) تش په نامه قاضى نه ؤ بلكه دقران او نبوى ارشاداتو دغوښتنى سره سم يو مسلمان قاضى ؤ او دده په اړه يوه مشهوره مقوله ده چى وايى نه به دنيا دوباره له سره راوگرځى او نه به دشريح(رض) غوندى قاضى پيدا شى .

قاضى شريح عيسايى قضا ته را حاضر كړ او حضرت على كرمه الله وجهه يى هم را وغوښت او دواړه (حضرت على (رض)) او عيسايى يى ځانته مخامخ كښينول ، او بى كچه دامن او امان په فضا كى يى ورسره سوال ځواب پيل كړ . دمخه عيسايى سره ډيره زياته ويره وه ځكه چى دعيسايى دامير المومنين سره دعوى وه او قاضى هم دامير المومنين مسلمان قاضى ؤ ، نو ډيرى زياتى وارخطا يى سره مخامخ ؤ خو كله چى يى ددواړو سره دمدعى او مدعى عليه په صفت يو ډول چلند وليد ديو څه اسانتيا او خوښى اميد ورته پيدا شو .

قاضى حضرت على (رض) ته مخ وروا ړاوه او ورېى ويل : امير المومنين تاسو درواغ وايى ځكه له تاسو سره شاهد (گواه) وجود نلرى او هره دعوى چى شاهد ونلرى هغه باطله ده نو بناء ستاسو دعوى بيځايه ده ، قاضى شريح دعيسايى په حق كى پريكړه وكړه اووېى ويل عيسايى زغره ستاده او څه دخپل ځان سره يى ساته .

اما كوم وخت چى ماجرا (ددعوى واقعه) پاى ته ورسيده او عيسايى دخپلو خيالاتو او تصوراتو په خلاف عملى ننداره وليده نو ډير زيات حيران شو او سمدستى داسلام په ښكلى دين باندى مشرف شو ، اووېى ويل : چى داډول انصاف دپيغمبرانو په څير عدالت دى ، ځكه چى دوخت او زمانى خليفه او امير ماغوندى سړى هم دخپل قاضى عدالت ته راغواړى او بيا ماسره دمدعى په صفت قضا ته حاضريږى او بيا هم دده قاضى دده په خلاف پريكړه صادروى ؟

عيسايى اعتراف وكړ چى دازغره دحضرت على كرم الله وجهه څخه هغه وخت لويدلى وه كله چى دوى (حضرت على «رض») دصفين لورته روان ؤ .

خو خليفه دهغه په ايمان راوړلو زيات خوشحاله شو او هغه زغره يى هغه ته وروبخښله او ورسره يى اس هم ورته پيش كړ . دانوى مسلمان بيا دخوار جوپر ضد وجنگيد ه او دمسلمانانو دينى ورور او ملاتړ ؤ او دحضرت على كرم الله وجهه كلك ملگرى ؤ .

دخلفاو راشدينو دا كړنلاره درسول الله (ص) دعمل پر ته دهغه (ص) دوينا په تائيد هم وه چى نبى كريم (ص) فرمايلى ؤ ، ترجمه: دمسلمانانو وينى ديو بل سره انډول دى ، ابو داود فى الديات باب ايقا دالمسلم بالكافر .

يعنى داسلام ددين دمننى څخه وروسته دهر مسلمان خواه كه هغه كوچنى وى لوى وى زورور كمزورى ، حاكم او كه محكوم وى ، دټولو وينه يو ډول ده او دټولو لپاره يوډول حكم جارى كولى شى لكه څنگه چى دكمزورى څخه انتقام اخستل كيږى همدارنگه به دهر زورور څخه هم اخستل كيږى او هيڅ ډول تو پير به ورسره نه كيږى .

اما دبرابرى څخه دامقصد نه دى چى ټول انسانان دى په دولت ، مال ... او د ژوند په وسائلو كى برابر شى . ځكه دى شيانو كښى برابرى نه راځى او نه يى دراتلو كوم جوته امكان ليدل كيږى بلكه برابرى په بنسټيزو اړتياو كى ضرورى ده .

دكفالت په خاطر ټول اوسيدونكى سره يو دبل انډول دى ، او دررق دپيدا كولو مسلمى لارى چارى بايد ټولو ته ازادى وى .

.. دحقيقت له مخى اساسى برابروالى دادى چى دقانون داسلامى شريعت له مخى ټول اوسيدونكى برابروى ، چى دغه ډول مساوات او برابرى يواځى په اسلامى شرعى نظام كى كيداى شى اوبس ...

لذا ټولو مسلمانانو ته ښايى چى په پورتنى عملى معيار باندى ځانونه برابر كړى چى همدغه سپيڅلى لار داسلامى ټولنى څخه دټولو بدبختيو او نيمگړتياوو دوركونى لار ده.

دافغانستان جهاد دهمدي قوماندانانو په ...

ددومره زیات شمیر میلمنو سنبالول او پالل پوره زحمت غواړی او مشکل کار دی نو مور الحاج مولوی جلال الدین حقانی ، دژوره دغونډ قوماندان الحاج محمد ابراهیم عمری او ټولو هغو مجاهدینو ته چی زمونږ په میلمه پالنی کی یی ډیر تکلیفونه وگالل دالله تعالی څخه داجر غوښتنه کوو الله (ج) دی دوي ته ددوی دنیکی اجر ورکړی .

دقوماندان عبدالحق وروسته اغای هادی غونډی ته دخپلی اختتامیه وینا په یوه برخه کی وویل : دټولو قوماندانانو ورونو څخه چی دی غونډی ته یی تشریف راوړی او هم دمحترم ورور مولوی حقانی صاحب او الحاج محمد ابراهیم څخه مننه کوم او دالله (ج) څخه ورته اجر عظیم غواړم .

اغای هادی زیاته کړه : مجاهدینو ورونو تاسی چی دنړی په اصطلاح لوی طاقت روس ختم کر دایوه وظیفه وه مگر تردی څخه مهمه هغه چي په افغانستان کی دیوه اسلامی حکومت جوړول دی ، پاتی ده چی دی هدف ته درسیدلو لپاره دجهادی قوماندانانو سرتاسری شورا یوازینی قوت دی څکه چی په دی شورا کی دافغانستان دټولو اقشارو نمایندگان غونډ شوی دی خو هوښیار اوسی چی دجهاد دښمنان زیار باسی ترڅو دقوماندانانو داوحدت کڅوړ کړی .

داغای هادی وروسته دفقیر محمد اوورسره ملگری له خوا یو پښتو شعر اودپهلوان میرعالم له خواپه دری ژبه یو شعر ولوستل شو.

دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شورا دریمه لویه غونډه چی ددلوی میاشتی داتم نه ددلوی دمیاشتی ۱۳ می نیټی پوری یی دوام وکړ دخلیفه عبدالواحد نقشبندی له خوا ددعایی په لوستلو پای ته ورسیده.

ددلوی دمیاشتی په ۱۲ مه نیټه دغرمی ډوډی خوړلو وروسته میلمنو سره دمخه ښه په مراسمو کی دژوره غونډ نظام قراول سره دغونډ مجاهدین دعبدالله بن مبارک (رض) دحربی پوهنتون استادان او محصلین په منظم شکل ولاړ وو دمولوی جلال الدین حقانی په ورتگ دحربی پوهنتون درئیس ارکان محمد نعیم خان له خوا ورته قطعه تقدیم شوه او حقانی صاحب دقطعی دمعاینه کولو وروسته دمیلمنو داحترام دپاره دتشریفاتو مراسم په ځای شول چی دغه مراسم دمجاهدینو له خوا دتکبیر په نارو او درنو او وروړو سره بدرگه کیدل وروسته الحاج مولوی جلال الدین حقانی دبیلابیل قوماندان سره په مخه ښه وکړه او په دی ترتیب دافغانستان دجهادی قوماندانانو دسرتاسری شورا ددریمی غونډی مراسم پای ته ورسیدل.

> **دافغانستان دجهاد قوماندانان جنرالان نه وو خو اوس دالله (ج) په فضل او جهاد په برکت له ټولو جهادي قوماندانانو څخه جنرالان جوړ شوي**

دنور په لور
زه ولی مسلمان شوم؟

علی محمد موری «جاپانی »

په دوهمه نړیواله جگړه کی زه په منچوریا کی وم ، په هغو شپو ورځو کی جاپانی پوځونه په منچوریا کی واکمن وو هلته می د«پایی چنگ» سره نږدی دخرماوو په یوه بیابانی بڼ کی له مسلمانانو سره ناسته ولاړه پیدا شوه دامی له مسلمانانو سره لومړی ملاقات او تعارف و دوی دنیکی او خلوص ښکلی امتزاج و ، زه ددوی له ټولنیز ژوند څخه په تیره بیا دژوند په باب ددوی له مناسبی عقیدی څخه زیات متاثر شوم ، اوڅومره چی زه دمنچوریا په اوږده او ساره کی زیات گرځیدم هومره ددوی دعقیدی تر تاثیر لاندی زیات راتلم.

کله چی جگړه پای ته ورسیده زه په ۱۹٤٦ کال بیرته خپل هیواد ته ستون شوم جاپان اوس یو ماته خوړلی هیواد و دهیواد وضعه بشپړه بدله شوی وه او په افکارو کی یو ژور انقلاب راغلی و بودایی دین دهیواد خلکو اکثریت دین و خو اوس دپخوا نه هم زیات دهغی اصول او قواعد مسخه شوی وو نو ځکه خو یی دماتی خوړلیو اذهانو لپاره څه درمل او شفانه درلوده ، دغه مذهب ټولنه دبدمرغی اوبی اطمینانی په لوری نوری هم ورټیل وهله .

عیسویت له جگړی وروسته په جاپان کی ښه نفوذ کړی و سره لدی چی نږدی یوه پیړی دغه دین په جاپان کی رواج ؤخو تر اوسه یی حیثیت له یوه رسمی دین نه زیات لوړ نه شو په لومړی سرکی ځینو مخلصو ساده زړیو او نیك خویه ځوانانو بودایی دین پریښود اودعیسویت په دایره کی راغونډ هم شول خو ډیر زر دوی مایوس شول او په دی وپوهیدل چی دمذهب تر نامه لاندی عیسویت اصلاً دامریکایی او انگلیسی استعمار یو جال دی اوعیسویت په ټولو امریکایی او اروپایی هیوادونو کی ناکام دی خو په نورو هیوادونو کی یوازی دښکیلاکی حربی کار ورڅخه اخیستل کیږی او تبلیغ ورته کیږی .

په جغرافیایی لحاظ دجاپان یوه اړخ ته روسی ښامار غوړمبیده اوبلی خواته امریکا پرته وه دواړه ترخپلی وسی دجاپانی ولس دلاندی کولو او ایلولو په لارو چارو لگیا وو خوله دواړو سره بیا داسی مرهم او پټی نه وه چی دجاپانیانو زخمی احساساتو ته درمل شوی وای او ښکاره ده چی له هغوی څخه داسی طمعه بی ځایه ده .

د ۱۹٦۰ کال دگرمی په موسم کی له پاکستان څخه دری تنه مسلمانان جاپان ته راغلل هغوی دجاپان په تاکن شن ښار کی وو زه دمنچوریاله مسلمانانو سره په ناسته پاسته کی له مسلمانانو سره څه ناڅه اشنا شوی وم چی دپاکستان دغو مسلمانانو نور هم زه تراغیزی لاندی راوستلم ، زه هغوی ته نور هم ورنږدی شوم اوداسلام په باب می پوښتنی تری پیل کړی زه په دی باوری شوم چی دژوند دټولو ناخوالو اوغمونو دمخنیوی لاره په دغه دین کی ده او همدا یوازینی دین دی چی دسړی ټول مسایل او پرابلمونه له معقولی لاری حلوی په ځانگړی ډول زه داسلام دورور گلوی له نظام نه ډیر ترتاثیر لاندی راغلم چی ټول مسلمانان یو دبل ورونه دی او خدای (ج) دوی یو له بل سره په محبت او همدردی مکلف کړی دی زه په دی باوری یم چی نړی نن دهمداسی ورور گلوی نظامی اړتیا لری.

زه له دی اطمینان وروسته دجاپان د دوو تنو نورو نویو مسلمان شویو په مخکی داسلام دمبارك دین دایری ته داخل شوم اوداسلام راوړلو اعلان می وکړ ، زه په پوره ډاډ او تاکید وایم چی نړی والو چی نن څومره اسلام ته ضرورت او احتیاج دی بل هیڅ وخت هم دومره اړه نه وه که نړیوال ټول داسلام نعمت ومنی دځمکی کره به دامن او ارامی یوه لازواله نمونه شی اوله غمونو او ماتمونو نه ډکه دغه نړی به دجنت په باغچه بدله شی

مساجد الجزایر درمحاصرهٔ تانکها

ترجمه ازنیوزویك — احمد سعادت

جبهه نجات اسلامی الجزایر ازطریق برنامه های تدریجی به مبارزه خود ادامه خواهد داد .

طبق اطلاع منابع خبری ، وسایل نقلیه زرهداربه دستور مقامات حاکم الجزایردر اطراف مساجد ان کشور جابجا شده وافراد نظامی ونمازگزارانیراکه به طرف مسجد به غرض ادای نماز جمعه می ایند مورد بازجویی قرار میدهند .

درانتخابات عمومی که طی ان جبهه نجات اسلامی الجزایر به موفقیت چشمگیری نایل امد ارتش انکشور به اشارهٔ قدرتهای استعماری به بهانه کنترول اوضاع به کودتا متوسل شده ومانع به قدرت رسیدن جبهه نجات اسلامی دران کشور گردید.

هفته گذشته جنرالان ارتش به بهانه تأمین امنیت فعالانه داخل اقدام گردیده و تصمیم به لغو تظاهرات گرفته به ترصد در جاده ها پراختند ، اما نتوانستند بانوك نیزه محبوبیت عامه را کمایی نمایند.

رهبران جنبش نجات اسلامی به مردم ان کشور مشوره داده اند که از تشنج جلو گیری نمایند اما اقدام غصب کردن قدرت راذریعه ارتش محکوم نموده و فیصله نمودند که بخاطر تاسیس یك حکومت اسلامی ازطریق برنامه های تدریجی ومسالمت امیز به جلوجهد خود ادامه دهند که درحقیقت این یك حرکت تاکتیکی است که رهبران جبهه نجات اسلامی الجزایر اختیار نموده اند.

جبهه نجات اسلامی از حمایه قاطبه ملت مسلمان بخصوص جوانان الجزایر برخوردار بوده وبا انهم درمقابله با ارتش راه دشواری رادرپیش رودارد .

رهبران جبهه نجات اسلامی با اعلان بازگشت به سوی صندوق های رایی ازطریق مسالمت امیز ارتش را گذاشته اند که درکوشش بیهوده خود بخاطر قانونی ساختن کودتای شان چند قدم دیگر نیز جلوتر برود .

نخست جنرالان ارتش قدرت رابه شوری قانونی کشور تفویض نمودندلیکن بعداً کودتاچیان یك شورای شش نفری دیگری را بنابر عدم کارایی ان شوری که مرکب از سه تن از جنرالان عالی رتبه ارتش میباشد تاسیس نمودند که در نزد مردم این کشور مقبولیتی ندارد بدین جهت رهبران کودتا یك شوری دولتی پنج نفری را طرح نمودند ویك قهرمان جنگ راکه ۷۲ سال دارد ودر مراکش در تبعید بسر می برد به حیث رئیس این شوری به کشور فرا خواندند

> **رهبران جنبش نجات اسلامي به مردم ان کشور مشوره داده اند که ازتشنج جلو گیري نمایند ما اقدام غصب کردن قدرت را ذریعه ارتش محکوم نموده وفیصله نمودند که بخاطر تاسیس یك حکومت اسلامي ازطریق برنامه هاي تدریجي ومسالمت امیز به جدوجهد خود ادامه دهد**

این شخص که محمد بوضیاف نام دارد وبه حیث رئیس دولت موقت ان کشور برگزیده شده .

در مراسم تحلیف که از طریق تلویزیون نیز پخش شد خود را متعهد به احکام قران و مطیع فرامین جنرالان اراسته با لباس نظامی خواند .

بادرنظر داشت چنین روندی ،مردم الجزایر فقط تحت سلطه یك گروه کوچك قدرت خواه افتیده اند که بالایشان تورن جنرال خالد نظار وزیر دفاع کشور و سید احمد غزالی صدراعظم کشور حکومت میکند .

اگر چه بعضی از گروهای کمونستی که دراقلیت قرار دارند ازبه قدرت رسیدن بنیادگرایان مسلمان در ان کشور در هراس بوده وقسماً این کودتا را تائید نموده اند ولی احزاب مهم سیاسی از حکومت بوضیاف خواسته اند که انتخابات رابرگذار نماید.

وهمچنان امریکا وفرانسه از حکومت الجزایر خواسته اند انتخابات برگذار گردد واین تقاضا حتی ازطرف جبهه نجات ملی که ۳۰ سال قدرت سیکولرستی (غیر مذهبی) الجزایر رادر دست داشت هم تائید گردیده است.

جبهه نجات ملی یگانه حزب رسمی است که ۳۰ سال بعد از ازادی الجزایر از زیر سلطه فرانسه بر ان کشور حکومت کرد و بالاخره تسلیم انتخابات مردمی گردید ویگانه حزبی است که دردور اول انتخابات در مقابل جبهه نجات اسلامی شکست خورد.

از جمله همسایگان کشور الجزایر فقط تونس که در برابر چیلنجی عظیمی از تحریك اسلامي کشور خویش قرار دارد علناً از کودتا در الجزایر استقبال نمود ولی در سرتاسر افریقا تحریك های اسلامی به تحرك امده اند ، در قاهره یك سخن گوی اخوان المسلمین هشدار داده است که عمل الجزایر مسلمانها را در نقاط دیگر جهان وامید دارد که دست به

در صفحه ۷

دنبوي (ص) لمر زريني ...

نیم زره کسان مړه شول ، دمسلمانانو دلښکر تلفات هم دکمیت اوهم ماهیت دواړو له اړخه ډیر زیات وو ، پدی ترتیب چی دپنځه زره تنو څخه ۱۲۰۰ تنه په شهادت ورسیدل چی دشهیدانو په ډله کی ۳٦۰ تنه هغه مهاجر او انصار وو چی دبدر ، اُحد ، خیبر ، او حنین په معرکو کی درسول الله (ص) تر قیادت لاندی په بهادری او میړانه جنګیدلی وو ، او ددوی کې شمیر دقران کریم حافظان وو.

تردی ویرونکی جګړی وروسته دبنو حنیفه قبیله ټوټی شوه ، او خلك یی ددوهم ځل لپاره داسلام دمبارك دین لوری ته راواوښتل ، او پدی توګه خالد (رض) وکولای شول چی دشپږو میاشتو په ترڅ کی دارتداد دفتنی او درواغجنو نبیانو مخنیوی وکړی .

تردی وروسته خالد (رض) ته دعراق لوری ته دپرمختګ حکم وشو په بحرین کی دبنو بکر قبیلی چی کله بغاوت وکړ نو فارسیانو هم دمسلمانانو په مقابل کی دهغوی ملګرتیا وکړه ، پدی وخت کی مثنی بن حارث الشیبانی دمسلمانانو له خوانه دعراق په سرحد کی دفارسی لښکر دنقل اوحرکت دکنترول لپاره موظف وو ، نو موړی دبحرین دشورش په خنثی کولو کی فعاله ونډه درلوده ، باغیانو او دهغوی فارسی ملګرو ماتی وخوړه او دفارس دخلیج په شمالی سیمه کی راغونډ شوی وو.

په بحرین کی دنظم او امنیت دټینګښت لپاره ضروری وه چی باید دغه سیمه دباغیانو له وجود څخه پاکه شی ولی دلته دفارسی امپراطوری سره دمستقیم ټکر خطره وه ، او دمثنی (رض) سره یوازی اته زره تنه لښکر وو ، او خالد (رض) دحضرت ابوبکر صدیق (رض) دامر مطابق دالحضر له سیمی څخه دعراق لوری ته پر مخته وکړ خالد (رض) دپرمختګ په دوران کی خپل لښکر په څلورو ستونو باندی وویشلو ، لومړی برخی دمثنی بن حارثه (رض) ترقوماندی لاندی حرکت وکړ ، یوه ورځ وروسته دعدی بن حاتم (رض) تر مشری لاندی بلی ډلی حرکت وکړ ، او تر هغی یوه ورځ وروسته عاصم بن عمرو(رض) دیوه لښکر سره حرکت وکړه اوتر ټولو وروسته خالد (رض) دهر ستون لپاره دیوه لارښود او مشر په حیث روان شو .

دفارسی لښکر سره لومړی نښته دکاظمی په سیمه کی چی داوسنی کویټ او بصری تر منځ دکویت خلیج ته نژدی پرته ده وشوه ، دفارس لښکر دعربو له قبایلی خلکو څخه جوړ شوی وو ، دفارسی لښکر داس سوار و یوه دسته هم دلته ځای پر ځای وه ، ولی فارسی عسکرو په دښته کی دجنګیدلو توان نه درلود ، له همدی امله اصلی جګړه دفارسی لښکردعربو سپاهیانو او داسلامی لښکر تر منځ وشوه ، چی فارسی لښکر ماتی وخوړه دفارسی لښکر سپه سالار او دکاظمه سیمی والی هرمز دخالد (رض) سره دلاس په لاس جګړه کی ووژل شو ،او دهغه له مړینی سره سم فارسی لښکر په تیښته پیل وکړ او مسلمانانو دشپی تر تیاری پوری هغوی تعقیب کړل ، دفارسی لښکر سره دوهمه نښته دابله په سیمه کی واقع شوه ، دغه ښارګی دفرات او دجلی په غاړه په هغه ځای کی واقع دی چی نن ورته شط العرب وایی

ددی ښار اوسیدونکو دخراج په منلو سره سوله وکړه تردی وروسته خالد (رض) دصحرا په غاړه پرمختګ وکړ ، او دفرات له سیند څخه په اوښتو سره یی په دلاجه چی اوس ورته شطره ویل کیږی برید وکړ، دلته مسلمانانو ته خبر راورسید چی فارسی لښکر بیا سره غونډیږی ، خالد (رض) دسیند څخه په اوښتو یو ځل بیا دښتی په غاړه راغی دلته دهغه دتګ راتګ پروګرام همداسی وو چی دفرات دسیند په غاړه به یی پرمختګ کاوه ، او دموقع په پیدا کولو سره به دسیند څخه بلی غاړی ته اوښتو ، او دفارس په سیمه کی به تر ډیری لری ساحی پوری وړاندی تللو او کله به یی چی دفارسی لښکرو دراتګ واوریدل نو بیا به دسیند دبلی غاړی دښتی ته راواوښتو .

نوربیا

په افغانستان کې دجهاد ...

تیریږی زه د خپل ځان او ددغی مدرسی د منسوبینو اودکراچی دخلکو په نمایندګی دمولانا حقانی دتشریف راوړلو له امله دخپلی مننی اوشکران مراتب څرګندوم ، زما هیله او دعا ده چی دفلسطین او کشمیر دازادی معرکی هم دمولانا جلال الدین حقانی له قیادت څخه برخمنی شی او زماخواست دی چی کله هم مولانا دفلسطین دازادی لپاره دلښکر تیاری نیوله نو زما نوم دی هم پکی شامل کړی زه پدغه معنوروپښو ددوی ترقیادت لاندی پدغه معرکه کی شاملیدل خپل افتخار ګڼم لدی وروسته حقانی صاحب ته دوینا بلنه ورکړ شو ه چی منبر ته تشریف راوړی او خپله بیانیه واوروی حقانی صاحب دخپلی وینا په ترڅ کی وویل :

زماعزتمند وورو نو !داسلام عزت او دکفر ذلت بیله جهاده نشی کیدلی داسلام ترویج یواځی په دعوت او تبلیغ نشی کیدلی داسلام دعظمت دساتلو او دقران دحاکمیت لپاره دجهاد ضرورت دی حقانی صاحب پخپلو خبرو کی وویل:

لکه څنګه چی الله تعالی دمجاهدینو هدایت او مرسته کوی همدغسی دمجاهدینو دګولیو هدایت هم کوی دمجاهدینو ډیری ګولی ددښمن پداسی حساسو او مهمو نقاطو لګیدلی او دومره تاوان ورته رسیدلی چی موږ یی تصور هم نشوای کولی .

محترم حقانی صاحب وویل :زه تاسی ته دخوست د جګړی یوه کیسه دلته دنمونی په توګه بیانوم : هلته دجګړی په جریان کی په لومړی خط کی مجاهدینو دټانك دګولیو غوښتنه وکړه داسی چی باید په یوه ساعت کی ګولی وروړسول شی ځکه دښمن دتعرض په حال کی دی او له مجاهدینو سره مهمات خلاص شویدی زه ډیر اندیښمن شوم چی څه ډول به مرمی په دومره لږ وخت کی وروړسوو پدی کی ددښمن الوتکو دپراشوت پواسطه مواد وغورځول دا مواد په هغه ځای کی ولویدل چی پرون ددښمن په لاس کی و خو نن مجاهدینو فتحه کړی ؤ دباد چلند هم دمجاهدینو په خوا و کله چی دغه پراشوتونه ځمکی ته ورسیدل مجاهدینو فکر کاوه چی کیدی شی غذایی او یانور مهمات پکی وی خو چی وی کتل نو هماغه دټانك مرمی وی چی مجاهدینو به یی غوښتنه کوله .

حقانی صاحب زیاته کړه :

مجاهدینو ماته په مخابره کی خبر راکړ چی الله تعالی ورته له کابله دټانك مرمی پخپل قدرت راولیږلی ...

دجمعی ورځی دمازیګر په پنځه نیمو بجو په نشتر پارك کی دایین شریعت تر عنوان لاندی دجمعیت العلماء اسلام یوه ډیره ستره غونډه جوړه شوی وه چی حقانی صاحب ته هم دګډون او وینا بلنه ورکړی شوی وه له حقانی صاحب څخه مخکینیو وینا کوونکو لکه مولانا محمد اجمل قادری او نورو پخپلو ویناووکی وویل: دازموږ ډیره نیکبختی ده چی دافغانستان دمجاهدینو فاتح قوماندان چی دده دمیړانی او توری له برکته داسلامی امت دعظمت شمله په ټوله نړی کی اوچته ده نن زموږ په دغه غونډه کی برخه لری دازموږ دټولو لپاره دډیر فخر خبره ده پدغه غونډه کی حقانی صاحب پخپله ویناکی وویل : ددنیا مسلمانانو په تیره دپاکستان علماوو او ملت دافغانانو دجهاد ډیر زیات ملاتړ وکړ موږ له دوی څخه ممنون یو خو اوس چی کفار او غیر اسلامی قوتونه په افغانستان کی د جهاد نوم محوه کوی او غواړی دمجاهدینو دحکومت مخه ونیسی او په افغانستان کی یوه سیکولر حکومت ته مخه پرانیزی دوی باید له جهاد سره خپل ملاتړ نور هم زیات او پراخ کړی حقانی صاحب وویل :

دافغانستان دجهاد په رابطه لومړنی فتوا چی دا جهاد یی دټولو اسلامی امت فریضه ګڼلی مرحوم مولانا مفتی محمودورکړی اوس باید دهغه خلف له جهاد څخه دخپل ملاتړ په هکله خپلو مسوولیتو نو ته نورهم متوجه شی .

> **حقاني صاحب دخپلو خبرو په پاي کي وويل:**
> **موږ يواځي دجهاد پر استمرار اعتماد اوباور لرو لدي پرته نوري طريقي دقضيي دواقعي حل لاره نه شي په گوته كولي**

دجمعی په ماښام په جامعه فاروقیه کی دحقانی صاحب په افتخار غونډه جوړه شوی و ه دغونډی په پیل کی دجامعی مشر مولانا فاروق خان وویل : نن زموږ سترګی دیوه داسی شخصیت په لیدوروښانه دی چی هغه دخپل ژوند نژدی شل کلونه دحق په سنګر کی دباطل پرضد په جهاد کی تیر کړی او دټول اسلامی امت لپاره یی دجهاد او فتحی ویاړونه ګټلی دی

کله چی حقانی صاحب ته دوینا بلنه ورکړی شوه دافغانستان دجهاد په پلوی شعارونو یو داسی زوږ جوړ کړ چی هره خوا دحق او حقانیت انګازی خپریدلی حقانی صاحب پخپله ویناکی وویل :

پدی وروستیو وختونوکی داسلامی جامعی یو ستر مشکل او مصیبت داؤ چی له اهل علم سره علم موجود ؤ خو دتنفیذ قدرت ورسره نه ؤ ځکه خو داسلام ډیر احکام خلکو له پامه وغورځول خو اوس چی دافغانستان دجهاد له برکته یونوی دور رادبره شو او الله تعالی اهل علم ته دتنفیذ قدرت ورپه برخه کړ ځکه خو دوی باید نور جد او جهد وکړی اویو واحد ملت جوړ کړی په افغانستان کی دجهاد له برکته یو نړیوال قوت جوړ شو اودټولو مسلمانانو لپاره یو جهادی مرکزیت رامنځته شوروس په افغانستان کی له شرمیدلی ماتی سره مخامخ شو اودافغانستان دجهاد په برکت په ټوله نړی کی دکمونیزم زولنی ماتی شوی شرقی اروپا اودمنځنی اسیا جمهوریتونه دکمونیزم دوحشت له منګولو خلاص شول اودکشمیراو فلسطین دازادی غورځنګونه ځپاند او توپانی شول حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل :

موږ یواځی دجهاد پر استمرار اعتماد اوباور لرو لدی پرته نوری طریقی دقضیی دواقعی حل لاره نشی په ګوته کولی .

دشنبی په ورځ په جامعه بنوړیه کی دحقانی صاحب په افتخار یوه غونډه جوړه شوی وه دلته هم دحقانی صاحب ډیر تود او درونډ هر کلی وشو حقانی صاحب پخپله وینا کی وویل :

ددین اشاعت دحق حاکمیت اودعدالت ټینګښت دجهاد په توره او قوت ساتل کیږی موږ باید همیشه له دغه قوت څخه برخمن ؤ او په ځان کی باید دا قوت ولرو اوله جهاد څخه غافل نشو.

حقانی صاحب دافغانستان دجهاد په رابطه چی دټول اسلامی امت لپاره د یوه واحد ملت دجوړیدو په لارکی یی یو بنسټیز نقش پری ایښی وویل : له همدی ځایه ده چی نړیوال کفر دجهاد پر ضد په توطیو او دسیسو لګیا دی اوپه دی سازشونو یی لاس پوری کړی چی دجهاد سپیڅلو اهدافو سره ضدیت لری ، ځکه خو دعلماوو مسوولیت او مکلفیت دادی چی ددغسی یوه خطرناك بین المللی سازش دناکامی په لاره له خپلو ټولو امکاناتو څخه کار واخلی.

لدی وروسته په جامعه کراچی کی دغونډی پروګرام ؤ جامعه کراچی ته دتلو په لار په اشرف المدارس کی هم حقانی صاحب دڅه وخت لپاره دمه شو اودمدرسی له صدر او استادانو سره یی خبری وکړی .

جامعه کراچی ته په رسیدو دجامعی صدر دپاکستان مشهور دینی عالم مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب اودجامعی نورو استادانو اوطالبانو دحقانی صاحب ډیر درونډ هر کلی وکړ دجامعی دصدر په دفتر

۷ مخ کي

په افغانستان کې دجهاد له...

کی له یوه لنډ مجلس وروسته حقانی صاحب اودوی ملګرو دمولانا محمد رفیع عثمانی په ملتیا دجامعې له کتابتون او مختلفو څانګو څخه لیدنه وکړه او په هغه ستره غونډه کی یی وینا وکړه چی ددوی په ویاړ جوړه شوه وه.

حقانی صاحب پخپلو خبرو کی وویل. عزتمنو ورونو!

جهاد په حقیقت کی دالله تعالی له طرفه دمسلمانانو یو ستر مکلفیت دی، په جهاد کی حقیقی نصرت او فتحه په لښکر او وسایلو کی نده بلکی حقیقی نصرت او فتحه دالله تعالی له طرفه ده، په افغانستان کی روس یو منظم پوځ درلود، وسلی او قوت یی درلود او هرڅه یی پیروو خوستاسی ورونه افغان مجاهدین تش لاس وو، اوپه همدغه تش لاس یی جهاد پیل کړ دجنګ هیڅ لوازمات ورسره نه وو خو لدی کبله چی دمجاهدینو بروسه او ایمان په الله تعالی باندی ټینګ و له همدی امله ووچی نه یواځی روسی پوځونه له شرمیدلی ماتی سره مخامخ شول بلکی روسی امپراطوری هم دړی وړی شوه.

حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل: دمسلمانانو په بیداری،وحدت او جهاد کی دامت ازادی او عزت نغښتی دی له همدی لاری به کشمیر هم ازادیږی اودهندوانو دظلم او وحشت طلسم به هم ماتیږی اوفلسطین دمسلمانانو لومړی قبله به هم دصهیونستانو له ناولو منګولو څخه خلاصون پیدا کوی.

مابنام په جامعه فاروقیه کی دحقانی صاحب په ویاړ غونډه جوړه شوی وه پدغه غونډه کی لومړی دمنبع العلوم جامعې صدر مولوی عزیز خان وینا وکړه ویی ویل: ګرانو طالبانو! تاسی ته ددغه علمی روزنی له اړخه یو ډیر دروند امانت درسپارل کیږی ځکه تاسی دپیغمبرانو دوراثت وظیفه په غاړه لری تاریخ شاهد دی چی په دنیا کی څومره ددین خدمت چاکړی هغه یی دعلم په اساس کړی دافغانستان دجهاد تهداب هم علماوو په علم باندی ایښی دی.

ورونو دجهاد ابتدا دعلماوو له خوا له منبر څخه شویده همدا علماوو چی جهادی کارنامو ته یی دنړی ډیر غټ غټ پوځی جنرالان حیران او ګوته په غاښ پاتی دی ددغو مجاهدو علماوو یو مثال ستاسی په وړاندی دافغانستان یو ډیر ستر عالم او مدبر مولوی جلال الدین حقانی دی چی دنن خالد بن ولید اویا دنن ابدالی اوبت شکن یی بللی شو.

مولوی عزیز خان دخپلی وینا په پای کی وویل: اوس وخت او حالات دمسلمانانو په ګټه دی دافغانستان جهاد دنړی مستضعفین رابیدار کړل اودجهاد درس یی ورکړ او په ټوله نړی کی دجهاد جذبه ژوندی شوه او وپاریدله ځکه خو علمابايد له دغو فرصتونو څخه ګټه واخلی، او دجهاد لیکی جوړی او غښتلی کړی.

له دی وروسته الحاج مولوی جلال الدین حقانی ته بلنه ورکړی شوه چی خپله وینا پیل کړی حقانی صاحب په خپلو خبرو کی وویل:

الله تعالی له مجاهدینو مهاجرینو او انصارو څخه راضی دی ځکه له همدی لاری کفر ذلیله کیږی او اسلام برلاسی او عزیز ګرځی.

ورونو: دجهاد او مجاهد فضلیت په قرانی نصوصو او نبوی احادیثو ثابت دی په یوه کتاب کی راغلی چی په کال کی چی څومره مسلمانان حج کوی دهغوی ټولو په اندازه ثواب او اجر الله تعالی دمجاد په برخه کوی بلکی داهم چی په ټوله دنیا کی چی څوك لمونځ کوی او روژه نیسی ددغو ټولو په اندازه ثواب الله تعالی مجاهد ته ورکوی لمونځ دمسلمان دخپل ځان لپاره دی خو دجهاد ګټه ټولی دنیا او ګرد امت ته رسیږی ځکه دجهاد اهمیت او ثواب دنورو عباداتو په نسبت ډیر زیات دی.

دحقانی صاحب له وینا وروسته له شیخ الحدیث ډاکتر شیرعلی شاه څخه هیله وشوه چی خپله بیانیه واوروی مولانا شیر علی شاه له حمد او ثنا وروسته پخپلو خبرو کی وویل: زمونږ او ستاسی ټولود دروند میلمه قائد المیدانی فضیلة الشیخ حقانی تقریر ډیر عالمانه جامع او کافی بی ددغسی یو لوړ علمی شخصیت تقریر چی الله تعالی په علوم ظاهری اوباطنی لمانځلی او ژوند یی په جهاد کی تیر شوی دهغه خبری کافی دی خو څرنګه چی ماته هم دعوت راکړی شوی خودوخت دتنګوالی له امله پدغو لنډو خبرو اکتفا کوم.

ورونو! په تاریخ کی ډیر جنګونه شوی خودافغانستان جهاد داسلام په تاریخ کی یو بیل امتیاز اوفضلیت لری.

زه څو څو واره افغانستان ته تللی یم هلته داسی کورونه مناظر او باغات دی چی جنت نظیر ګڼل کیږی خو افغانانو ویل که زمونږ کورونه ورانیږی خیر دی وران دی شی خودانشو زغلمی چی دتوحید عقیده دی زمونږ له زړونو څخه ووځی زه له هغو پوښتنه کوم چی په ښه کور کی اوسیږی که هغه هرڅومره مجبور هم شی خو خپل کور نشی پریښودلی خو افغانانو ته خپله عقیده ډیره ګرانه ده ددوی عظمت او ارادی ته زما سلام دی چی خپلی سینی یی ددښمن ګولیو ته سپر کړی او هر تکلیف یی وزغامه خو دلا اله الا الله کلمه یی پری نښوده.

دمازیګر له لمانځه وروسته په جامعه مخزن العلوم کی یو پرتمین تقریب جوړ شوی و لدی مخکی دمفتی رشید احمد دارالافتاوالایشاء خانقاکی هم یو غونډه جوړشوی وه دجامعه مخزن العلوم صدر پخپله افتتاحیه وینا کی وویل: نن یو داسی شخصیت په خپل تشریف راوړلو موږ ته ویاړ رابخښلی دی چی هغه یواځی افغان ولس نه بلکی ټول عالم اسلام دخپلو جهادی کارنامو له امله سر لوړی ګرځولی زه دغه عظیم مجاهد ته خپل سلام وړاندی کوم جناب مولانا حقانی هغه عظیم مجاهد دی چی روسی ته یی ماتی ورکړه او اوس ددغه ستر مجاهد له لاسه دامریکا په کور هم زلزله ګډه ده.

دجامعې صدر زیاته کړه: موږ خپل ستر قوماندان ته ددی ډاډ ورکوو چی زمونږ سرونه، زمونږ وینی او زمونږ هرڅه دجهاد لپاره دده په خدمت کی حاضردی موږ دهری قربانی لپاره چمتو یو.

لدی وروسته حقانی صاحب په خپله لنډه وینا کی وویل:

عزتمنو ورونو! روسانو دخپل زور وحشت او بربریت سره په افغانستان تیری وکړ غوښتل یی دافغانانو مقاومت وځپی خو افغانانو همت له لاسه ورنکړ دقربانی په میدان ودریدل اودهمدغه قربانیو له برکته روس له شرمیدلی ماتی او نابودی سره مخامخ شو داسی چی دجهاد له برکته په ټوله نړی کی دبیداری او جهاد دیوه نوی نور لمر راوخوت اوپه ټوله نړی کی دازادی غوښتنی هنګامه توده شوه.

حقانی صاحب دخپلو خبرو په پای کی وویل: مسلمانان او دامت علما باید دجهاد ددغه حرکت او غورځنګ جذبه او روحیه په ولسونو کی تقویه او غښتلی کړی اوپه عملی توګه مدرسی داسلام دنشر او اشاعت پاخه سنګرونه وګرځوی ددغی ورځی په ماسختن دتکبیر مجلی مدیر محمد صلاح الدین دافغانستان دقضیی په رابطه له حقانی صاحب سره مرکه وکړه چی په راتلونکی ګڼه کی به دهغی بشپړ متن خپور کړی شی.

کراچی ته دحقانی صاحب سفر اودینی جامعو، مدرسو او ادارٌله منسوبینو او چلونکو سره ملاقاتونه او کتو غونډو ته ویناوی یو داسی اقدام و چی دهغی نتایج دافغانستان له جهاد سره دمرستی او کلك تائید او هر اړخیز ملاتړ داعلان دتجدید په بڼه څرګند او دیوه داسی موثر قوت دجوړیدو او پیاوړتیا زیری له ځان سره درلود چی له یوی خوا دجهاد دجذبی او روحیی دپاللو او ژوندی ساتلو لپاره یی یو محوری کردار خپل کړاوله بلی خواپداسی شرایطو کی چی دجهاد پرخلاف دنړیوال کفر سازشونه او توطیی په ډیره تیزی سره په لار اچول شوی دپاکستان دعلمی او روحانی حلقو دفعالانه نقش او جدی موقف دجلبولو په لار کی یو ستر او کامیاب قدم ګڼلی شی.

دمحترم حقانی دغه بریالی دوره دکراچی دجامعو، دینی مدرسو او حلقو څخه دیو داسی قوت په جوړولو او چمتو کولو یوموثر او په ځای قدم ؤ چی دجهاد دبری په لار کی ډیر مهم او ضروری بللی شی چی دهغی مثبت نتایج دهغو حلقو ددغه تعهد په تجدید کی لیدلی هغوی په ډاګه دافغانستان له مجاهدینو سره حتی دخپلی وینی قربانی تر حده اعلان کړ.

> اوس وخت او حالات دمسلمانانو په ګټه دي دافغانستان جهاد دنړي مستعضفين رابيدار کړل اودجهاد درس يي ورکړ

مساجد الجزایر در محاصره...

اقدامات مقتضی بزنند اگربه این نقطه عمیقاً نگریسته شود مسلمانهای مالی بخاطر اینکه یك حکومت دیموکراسی به خواسته فرانسه در انجا تاسیس خواهد شد ریفراندم را در انجا تحریم نموده گفتند که قران یگانه قانون انها است حکومت فعلی الجزایر خواهد توانست که امنیت وارامی رابرای مدتی بر قرار نماید ولی گمان نمی رود که به حالت درهم برهم اقتصادی ان کشور به شمول قرضه ۲۵ ملیون دالری وقلت مواد غذایی که قسماً موجب عدم رضایت مردم ار رژیم شده خاتمه بدهد، دراین وضع اگر مسلمانها از تشنج درمقابل ارتش خودداری نمایند شهرت بی پایانی راکسب خواهند کرد واگر وضع به چنین منوال ادامه یابد کودتاچیان نظامی خود بخود توسط نظام غیر قانونی خود شان سقوط خواهند کرد.

دکابل رژیم دملیشي یو قوماندان ووژل شو

پروان:

په پیښور کی دقوماندانانو دشوری نظامی دفتر دپروان ولایت څخه رپوټ ورکړی چی مجاهدینو دپروان ولایت دمرکز چاریکارو سره نژدی درژیم ملیشه وو قوماندان شیر ګل دسپرلی موټر هغه وخت دیوځای پر ځای شوی مین په واسطه له منځه یووړو کله چی نوموړی دپوستو دلیدنو او کتنو لپاره روان ؤ، چی په نتیجه کی قوماندان او څو تنه ساتونکی یی ووژل شوی.

درپوټ مطابق کله چی قوماندان شیرګل ووژل شو نودهغی نه وروسته دده پوری مربوط دوه کندکه وسله وال ملیشه مجاهدینو ته تسلیم شوی دی.

چه دلاور است دزدی که بکف...

ماخاك بپاشند.

نجیب میخواهد باتردستی ومکاری سیاسی جلوه نمایی ها ناسیونالستی نموده از بار جرایم خیانت وفضیحت خودبکاهد اما این همه فریبگری ها نمیتواند درشتی جنایاتی راکه خودش ودرمجموع حزبش بمردم مسلمان ما نموده اند بکاهد.

درین شك نیست که روز ۲٦ دلو روز بزرك تاریخی و روز به پیروزی رسیدن مرحله اول قیام مردم ما علیه اشغال گران بیگانه والحاد است واعلام این روز بحیث روز ملی نیز حق انهای است که بخاطر پایان دادن اشغال روسها قیام وجهاد کرده اند نه حق انهای که خود عامل ویادعوت گران روسها به اشغال افغانستان بوده اند.

نیروی توفانی جهاد متاسفانه دراثر فقدان یك قیادت واحد بسوی هدف بصورت درست رهنمونی نمیگردد، وازاین جهت بهترین فرصت ها یکی پی دیگری از دست مجاهدین میرود، عدم کارایی رهبری جهادموجب دل شکستکی قوت های جهادی شده ودر نتیجه از قدرت ما کاسته می شود.

دشمن مکار ازین خلاها وفرصت هاکاملا به نفع خود وبرای فریب مردم استفاد می کند وباید باتاسف اعتراف نمود که کمونست های رژیم کابل در بخش سیاست مجاهدین را اکثرا بااستفاده ازین خلاها تحت فشار سیاسی قرار میدهند.

گرچه کمونستان خلقی وپرچمی با اعلام روزهای ملی نمیتوانند افتخارات بدست امده ملت مجاهد ما را غصب نمایند ولی این خود کار برد زرنگی سیاسی بااستفاده از عدم کارایی سیاسی صف جهاد میباشد که نمی خواهد انرا بنام خود تسجیل نماید.

جای حیرت است انکه خود خاین و وسیله تجاوز قوای خارجی بر کشور است روز خروج انرا روز ملی اعلام می کند راست گفته اند"چی دلاور است دزدی که بکف چراغ دارد"!

دقوماندانانو دسرتاسري شورا دريمه پرتمينه غونډه - - -

په داسې حال کې چې زموږ دجهاد او مقاومت پرخلاف نن تر بل هر وخت زيات نړيوال استکبار لاس په کار دی او غواړي چې په همدی وروستيو شپيو کې مو دملت دهيلو او ارمانونو پرخلاف دجهاد او مقاومت پر قربانيو نامردانه ګوزار وکړي .

څوك دقوماندانانو دسرتاسري شوري ددغي پرتميني غونډي له اهميت اوارزښت څخه سترګې نه شي پټولی او طبيعي ده چې ملت هم دهمدوی په لور دتمې او اميد سترګې نيولي دهمدوی مجاهدو قوماندانانو په لور چې دکفر او کمونيزم پرخلاف يې وسلي په اوږه کړې ، ستونزې او ربړې يې وګاللې دملت په غيږ کې و اوسيدل دحق او شهادت مورچلونه يې تاوده وساتل او بالاخره دوخت يو ستر زبر ځواك يې په ګونډو کړ .

نن هم ملت همدوی ته سترګې پر لار دی چې دراتلونکي په باب به يې پريکړه کوی ، په دغه سرتاسري غونډه کې دملت او امت دهيلو او غوښتنو سره سم زموږ دتودو مورچلونو قاندين دهيواد شرف او عزت نه ددفاع په لاره کې دخپل جهاد اومقاومت پردوام اوپه هيواد کې داسلامي نظام دقيام پرسر يو ځل بيا خپل تعهد تجديد کړ ، دهيواد ددفاع اودشهيدانو دوينو ثمر دساتني اوسرپرستي لپاره ديوې منظمې جهادي اردو جوړولو پريکړه وشوه چې دوخت او حالاتو له غوښتنو سره سم يو معقول او مناسب اقدام ګڼلی شي زموږ مجاهدو قوماندانانو له خپل ټول ملت سره خپل غږ غبرګ کړاوپه زوره يې يوځل بيا اعلان کړه چې په هيواد کې به يوازې او يوازې دهمدې هيواد بچيانو په خوښه حکومت جوړيږي اوداستکبار له لوري تپل شوې حکومت به دروس دمزدورو حکومتونو په څير وی چې دمجاهد ملت لخوا به دتوپك له شپيلي ورسره روغبړ وی اوبس .

موږ په پوره باور سره ويلی شو چې دهيواد برخليك په اړه مو يوازې هغه طرحه او اقدام دعمل وړ دی چې دملت جهادي ځواك يې تر شا دريدلی وی اوکه زموږ مجاهد قوماندانان په يوه خوله اويوه اواز دملت دراتلونکي په اړه کوم شعار پورته کړي باوري يو چې زر تر زره به يې دپلي کيدو زيری اورو او دپرديو او پرديو پالو خولې به له خاورو ډکيږي له خپلو مجاهدو قوماندانانو نه مو همدا هيله ده چې زر تر زره نور هم خپل زړونه او صفونه سره نږدی او دنړيوال استکبار په وړاندی « بنيان مرصوص » شي چې دسره سيلاب په څير داستکبار ددسيسو تور سيلابونه هم تم شي او ملت مو له دغه نازکي مرحلې څخه سرلوړی اوبريمن راووزی .

په هيواد کې دسوچه اسلامي نظام دقيام په هيله

ومن الله التوفيق

داسلامي تحريك دمنسوبينو غونډه

البنيان آژانس ، ددلوي ١٤مه :

دافغانستان داسلامي تحريك دمنسوبينو له خوا ددوشنبي په ورځ ددلوي په ١٤مه نيته دپيښور دجلوزو په کمپ کي دالجزاير اوکشمير دبي وزلو مسلمانانو سره دپيوستون په اړه يوه ستره غونډه جوړه شوي وه چي څه دپاسه پنځو زرو تنو مجاهدينو ، مهاجرينو او محصلينو پکي ګډون کړي وو .

درپوټ مطابق پدي غونډه کي داسلامي تحريك منسوبينو ، انجينر عبيدالله سيرت ، انجينر احمد شاه ، سيد نور الله عماد ، محمد ياسر ، محمد زمان مزمل انصار عالم مولانا عبدالرحيم چترالي ، دماليزيا داسلامي حزب مصطفي علي خبري وکړي ، اودخپلو خبرو په ترڅ کي يي زموږ دقضيي دسياسي حل په اړه رواني هڅي وغندلي دالجزاير او کشمير ، له مسلمانانو سره يي خپل هر اړخيز ملاتړ څرګند کړ .

داسلامي تحريك دمنسوبينو دغه غونډه چي دورځي دنهو بجو په شاوخوا کي جوړه شوي وه ، دغرمي په ١٢ بجو ديوه پريکړه ليك په لوستلو پاي ته ورسيده .

په پريکړه ليك کي دالجزاير داوسني حاکمي شورا دسياست غندنه شوي ، اودالجزاير اوکشمير له مسلمانانو سره يي خپل پيوستون اعلان کړي .

قوماندان حاجی عبدالقدير دوالی په توګه وټاکل شو

ننګرهار، ميډيا :

په پيښور کی دننګرهار ولايت دقوماندانانو دشوری دفتر ميډيا ته رپوټ ورکړی چی دننګرهار ولايت داوو تنظيمونو قوماندانانو ١٤ کسيز هيئت په يوه دری ورځنی غونډه کی دحزب اسلامی (مولوی خالص) قوماندان حاجی عبدالقدير دننګرهار ولايت دمجاهدينو دکنترول لاندی سيمو اداری لپاره دوالی په توګه درايو په اتفاق سره ټاکلی دی .

خبر ځای وايی چی نوموړی کمسيون ته قوماندان عبدالقدير او انجينر محمود دحزب اسلامی خالص قوماندان فضل الحق مجاهد او انجينر عبدالغفار دحزب اسلامی حکمتيار قوماندان شمالی او محمد امان دمحاذ ملی اسلامی قوماندان سازنور او سيد محمد پهلوان داتحاد اسلامی ، شهزاده اوسيد رحيم پاچا دجمعيت اسلامی او قوماندان مومن خان او غلام نبی خان دحرکت انقلاب اسلامی دتنظيمونو څخه په رسمی ډول معرفی شوی وو .

وروسته له دی چی ددغه کمسيون له خوا قوماندان عبدالقدير دننګرهار ١٥٠ تنو قوماندانانو او سرګروپانو ته معرفی شو نو په يو اتفاق يی دننګرهار والی اودشورا درئيس په توګه منتخب کړ .

خبر ځای زياتوی چی دقوماندانو په دی غونډه کی دمحاذ ملی اسلامی قوماندان حاجی شمالی دوالی دمرستيال په توګه تعين شوی اوهم دنورو ادارو لپاره لاندی قوماندان درايو په اتفاق سره درياست په چوکاټ کی دبيا ودانی او جهادی امورو دسمون لپاره مقرر شوی دی :

فضل الحق مجاهد دنظامی رئيس په توګه

مومن خان دامنيت درئيس په توګه

سازنور داعمار مجدد درئيس په توګه

ثناګل دلوژستيك درئيس په توګه

انجينر محمود دزراعت درئيس په توګه

حاجی شهزاده دمالی درئيس په توګه

حضرت علی دقضا درئيس په توګه

محمد امان تعليم وتربيه درئيس په توګه

سليم شاه دمخابراتو درئيس په توګه

سيد محمد پهلوان دصحی درئيس په توګه

انجينر معراج الدين دښارنوالی درئيس په توګه

غلام نبی خان داطلاعاتو درئيس په توګه

انجينر عبدالغفار دګمرکاتو درئيس په توګه

سيد رحيم پاچا ددعوت او ارشاد درئيس په توګه

حيات خان دښاروال په توګه

دخبر مطابق دشينوارو لويه ولسوالی دشورا دمرکز په ډول فی الحال تعين شوی ترڅو دجلال اباد ښار هم دړژيم څخه ازاد اوپه دی ډول په ټول ولايت کی سوله او امنيت تامين کړی .

دظاهرشاه حکومت به د ميليونونو شهيدانو له وينو سره خيانت وی

لاهور ، دپاکستان ورځپاڼه :

دپاکستان دمشهورو مذهبی اوسياسی تنظيمونو مشرانو او استازو ديوی عمومی نظر غوښتنی په ترځ کی دافغانستان دقضيی په اړه دپاکستان په سياست کی بدلون ته سخته ګوته نيولی او ټينګار يی کړی چی دافغانستان راتلونکی حکومت بايد دمجاهدينو او مهاجرينو په خوښه وی .

دجمعيت العلمای اسلام مشر اودپاکستان مشهور عالم مولانا سميع الحق پدی هکله وويل امريکا داسلامی نړی پرخلاف منظم سازش په کار اچولی اوپدی لړ کی يی زياته توجه دپاکستان لوری ته ده هغه زياته کړه : ظاهر شاه داستعمار لاسپوڅی او دسل ګونو مجاهدينو قاتل دی ، په افغانستان کی دسولی او امنيت دراتللو لپاره دمجاهدينو حکومت ضروری دی اودافغانستان دقضيی دحل لاره هم همدا ده .

همدارنګه دپاکستان داهلحديث دتنظيم مشر پروفيسور ساجد ميرويلی دی چی په افغانستان کی داسلامی حکومت له ټينګښت سره زموږ شمالی پولی هم محفوظی پاتی کيدای شی اودمنځنی اسيا له جمهوريتونو سره مو هم اړيکی ښی کيدای شی .

دپاکستان ستر عالم (دجمعيت العلمای اسلام (فضل الرحمن ګروپ) مشر مولانا فضل الرحمن هم دپاکستان حکومت دغه سياست ته ګوته نيولی او ويلی يی دی چی دپاکستان دحکومت له لوری دملګرو ملتو دپلان منل دافغانستان دجهاد پر ضد دامريکا دسازش يوه برخه ده ، چی هدف يی دروس ماتونکی افغانانو دجهاد دناکامولو اودمجاهدينو دقدرت ختمول دی .

همدا راز دجماعت اسلامی پاکستان دپنجاب صوبی امير حافظ محمد ادريس وويل : په افغانستان کی دحکومت کولو حق يوازی دمجاهدينو دی او موږ داوسنيو حالاتو مسول هم ظاهر شاه ګڼو هغه زياته کړه : اسلامی نړی به په هيڅ صورت ظاهرشاه ونه منی او دظاهر شاه سرنوشت به هم دروسی مزدورانو په څيروی .

همدارنګه دجماعت اسلامی عمومی منشی ، اسلم سليمی وويل : موږ دافغانستان په هکله دپاکستان دپخوانی سياست بيرته اعاده غواړو ، پاکستانی قوم او افغانی مجاهدينو دافغانستان په اسلامی جهاد کی ډيری قربانی ورکړی نو له همدی امله موږ هلته داسلامی حکومت غوښتونکی يو، دظاهرشاه يا دهغه په څير دنورو کسانو حکومت به دهند او امريکا ګوډاګی حکومت وی

دسياسی حل اورګاډی يوازی زموږ له سرنه په . . .

دافغانستان داسلامی اتحاد مشر استاد عبدالرب رسول سياف دهيواد له داخل څخه په يوه مخابروی پيغام کی دافغانستان دروانی وضعی اودنړيوالو هڅو په هکله داسی ويلی دی:

دسياسی حل اورګاډی به هغه وخت افغانستان ته ننوزی ، کله چی زموږ په ککريو باندی تيرشی .

استاد سياف زياته کړه :

غواړم يو ځل بيا ددی خبری اعلان وکړم چی په افغانستان کی دجهاد دارمانونو خلاف نقشی چلول څه اسانه کار ندی اوهغه څوك چی ګومان کوی دغه اوسنی طرحی داورګاډی حيثيت لری ، اوڅوك يی چی مخالفت کوی هغه به تری پاتی شی .

موږ دوی ته وايو چی ترڅو دغه اورګاډی زموږ په ککريو نه وی تير شوی نو انشاالله دغه ګاډی به افغانستان ته داخل نشی .

پدغه پيام کی چی دالبنيان دخبری اژانس په نامه راليږل شوی ويل شوی چی :

زموږ دوستان بايد ددښمنانو نقشی پر موږ باندی عملی نکړی زموږ هغه دوستان چی نن وايی دافغانستان دقضيی دحل او دملګرو ملتو دطرحی دپلی کولو په هکله به ددوی په اصطلاح دبنيادګرايانو پروا نه ساتل کيږي دوی بايد هغه ورځی هم ورپه زړه کړی چی همدی بنيادګرايانو سور سيلاب په خپلو ککريو ورڅخه تم کړی وو.

استاد سياف وويل :

موږ پدی باوريو چی زموږ دوستان به په خپل نوی سياست بيرته پښيمانه شی خو هلته به بيا پښيمانی ګټه نلری، داتحاد اسلامی مشر وويل :

که څه هم دښمنان غواړی چی دافغانستان اوپاکستان دمسلمانانو تر منځ تاو تريخ والی راپيدا کړی ، ولی موږ دپاکستان ولس ته دوروړ ولی او قدر په سترګه ګورو که څه هم حکومتونه يی زموږ داهدافو پرخلاف ودريږی .

موږ هيڅ کله هم په ولسونو نه بدګمانه کيږو .

استاد سياف دپيغام په پای کی يو ځل بيا دجهاد په دوام ټينګار کړی او ويلی دی زموږ جهاد به دخدای (ج) په توکل په پوره ميړانه او ايمانداری داسلام تر ټينګښت پوری دوام لری .

دهيت تحرير تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (١٠٣٣)
يونيورستي ټاون پيښور
ټيلفون : ٨١٢٨٨١

کمپوزر: احمد ضيا «ذهين بابري»